مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

Baz_q_perzoyena
۲۰۲۴/۰۹/۲۸

قاسم باز

# پیرزوینه

مسجد دی وی د ملا ، میخانه دی وی زما

وفا ما سره ښایی ، خو جفا جور د ستا

گلشن او نرگیس دواړه ، دا ماته قباله کړه

جنت حوری غیلمان ، دا واړه بیا د ستا

قلم کتاب کاغذ می ، وانخلی له ما لاسه

مذهب دین او دنیا دی دا, وی تول د اشنا

کعبه او صوابونه ما بخلی دی صوفی ته

دوزخ عذاب گناه می، قبول کړی له پخوا

کنجونه د خلوت او ریاضت ، پر تا پیرزو دی

شراب به په خوند څکښمه، زمزم دی وی د ستا

مستی هستی زما شوه ، نیستی عقبا د تا

عُرس به تا ته پریږدم ، تنگ تکور دی وی زما

سپتمبر/ ۱۹ / ۲۰۲۴

ویرجینیا ، امریکا.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ